


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# سمیع الدین « افغاني »

د نشر نیټه : 9 می 2025 میلادی

# سره مزه کا!

محفل چې دیارانـو ټنګ ټکور سره مزه کا
خوښي او خوشالي دکلي، کور سره مزه کا

پروا مې د اشنا پـــه ځان منـلـې ده نو ځکه
اشنا ستا یارانه خـو د پیـــغور سره مزه کا

د ژوند په اوږدو لارو منزلونو او ستړیا کې
دا ټول جار اوجنجال بیا د زړه زور سره مزه کا

څوک ناست دی غمازي کا څوک د ښکلوسوداګردی
د ا ژوند او کارو بار بیا لږ د شور سره مزه کا

ځواني چې مې دیار قد او قامت سره ښکلا ده
خالـونه یې په مـخ کې درې، څلور سره مزه کا

دیدن ته چـې د یار په « افغاني » وعده ورځمه
سور شال یې پلو داره په سر خور سره مزه کا

***

سمیع الدین « افغاني »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org